UNAMA
د یوناما مطبوعاتي بیانیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په افغانستان کې ملګري ملتونه ددوی د ښځینه کارکونکو د ځورولو د پای ته رسولو غږ کوي**

**کابل د سپټمبر ۱۲مه -** ملګري ملتونه په افغانستان کې دخپلو افغان ښځینه کارکوونکو پر وړاندې د واکمنو چارواکو د کړنو په اړه خپله ژوره اندېښنه په ډاګه کوي. ملګري ملتونه له واکمنو چارواکو غواړي چې په ټول هیواد کې د ازاد تګ راتګ په ګډون د ملګرو ملتونو او د دغه سازمان د ټولو کارکونکو امتیازاتو او خوندیتوب ته د درناوي په برخه کې خپل مکلفیتونه ترسره کړي.

د واکمنو چارواکو لخوا د ملګرو ملتونو د افغان ښځینه کارکونکو د ځورونې یوه نوې ځرګندیدونکې نمونه شتون لري، له هغې جملې د نن ورځې یوه پېښه چې په هغه کې دملګرو ملتونو درې افغان ښځینه کارکونکې د واکمنو چارواکو د وسله والو او امنیتي کسانو لخوا په موقت ډول د پوښتنو لپاره توقیف شوې .

ملګري ملتونه په سملاسي ډول د خپلو افغان ښځینه همکارانو د دا ډول ګواښونو او ډارولو د پای ته رسولو غوښتنه کوي، او پر واکمنو چارواکو غږ کوي چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د ټولو کارکوونکو د امنیت او خوندیتوب لپاره دې روښانه تضمینونه پلي کړي، چې دنړیوال قانون پراساس د افغانستان له مکلفیتونو څخه دي.

ملګري ملتونه له واکمنو چارواکو غواړي چې په افغانستان کې د ټولو خلکو لپاره د بشري حقونو نړیوالو مکلفیتونو ته درناوی تضمین کړي.

* * *